مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لېوال ۲۰۲۱/۰۷/۰۳

حکومتولي د چا کار دی؟

جګړه ماران به ځینو ـ ځینو ته اتلان ښکاري، خو هیڅکله ښه سیاستوال نه دي، بلکې بیخي سیاستوال دي نه.

ځکه هغوی چې انسانان وژني، له انسان سره یې د تعامل بله چاره نه زده او په ټولنه کې د بدلون په نورو لارو نه پوهېږي، له همدې امله انسانوژنې ته مخه کوي.

په نوې زمانه کې، چې حکومتولي پر اقتصاد و ښه مدیریت تکیه شوې ده، جګړه ماران د سیاست و مدیریت تر ټولو کودن بېسوادان دي.

نوموتي انقلابي چریک ارنستو چی ګوارا ته منسوبه خبره ده؛ کله چې ترې وپوښتل شول، په کیوبا کې دې وزارت و نورې څوکۍ درلودې، ولې بېرته جبهې ته راوګرځېدې؟ نو ده ورته وویل:

ما له دواړو چارو سره وفا وکړه، هم له حکومتولۍ سره او هم له چریکي جنګ سره. تر طبابت، وزارت، بانکولۍ، سوادزدکړې او دیپلوماسي پورې هرڅه مې تجربه کړل، ناکام وم او پایلې ته ورسېدم، چې زه د سنګر انقلابي یم، پوه شوې د سنګر. حکومت کول زما کار نه دی.

دا چې جګړه ماران په سیاست و حکومتولۍ کې مطلق ناکام دي، د افغانستان د اوږدې لسیزې کلونه یې روښانه مثال دی.

زه پوهېږم اوس به ګڼ کسان ولیکي، چې دا نور خو هم ډېر بریالي نه دي. په یاد ولرئ، چې دا بېل بحث دی او ښایي پرې خبرې وشي، چې ولې؟

د دې لیکنې منځتګی دا دی، چې جګړه مار له انسانانو سره په عقلاني، منطقي، اخلاقي، حقوقي او تولنیز چارچلند و تعامل نه پوهېږي، ځکه نو غواړي سیاست ته د انسانوژنې له بداخلاقه او اسانه لارې څخه راننوځي.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ